# کاربن مونو اکساید

## خطرونه یی پیژني

1 . هیڅکله خپل جنراتور  د موټرو ګراچ کی، تهکاوی کی (بیسمینټ)، دالان کی، ګودام، یا پوښل شوي ځایونو کې مه چالانوی. همیشه جنراتورونه باید د کور څخه بهر په ازاده هوا کی او لری چالان شی.



2 . هېڅکله هم خپل کور په منقل او یا  ګازی داش باندی ګرم نکړی. د منقل چالان ( لیګیدلی) پریښودل به ستاسی کور دننه د کاربن مونو اکساید وژونکی ګاز خپرولو او  ستاسی د مړینې لامل کیږی.



3 .هیڅکله هم په خپل ګراج کی او یا کور دننه کی د سکرو او یا د کباب پښولو ماشین ( ګیرل ) څخه استفاده ونه کړی. داخل د کور کی د کباب ماشین څه استفاده کول د مونو اکساید ګازو د تولید لامل کیږي.



4 . هیڅکه هم په بندو ځایونو کی د هغه ماشینونه چی تیل استفاده کوی چالان نکړی ( د وښو ریبلو ماشین، د واورو لری کولو ماشین، آره، جنراتورونه او یا ګوچنی موټورونه )



5. هیڅکله هم د بخارۍ او یا د بخارۍ ځای څخه استفاده ونکړی تر څو چې هغه درست ډول نصب شوی نه وی، او د ګازی سیستم او د کرمو اوبو سیستم یی په کلنی ډول کتل شوی او معاینه شوی نه وی



6. هیڅکله هم خپل موټر، موټرسایکل، او یا خپل لاری ( ټرک) د ګراج دننه چې ستاسی کور سره وصل وی چالان نکړی او یا هغه وخت چې ستاسی د کور ګراج دروازه بنده وی، دروازه خلاصه کړی تر څو کاربن مونو اکساید او نور مضره کاربنونه بیرون ته ووځی



## کاربن مونو اکساید

### کاربن مونو اکساید څه شی دی؟

کاربن مونو اکساید (CO) یو زهرجن ګاز دی چې کولاشی شی تاسی په دقیقه کی ووژني.

دا نه لیدونکی ګاز دی، بی خونده، بې بویه، او غیر څورونکی دی. دا د سونګ موادو څخه تولیدیږی لکه لرګیو څخه، تیل څخه، طبیعي ګازڅخه، او تیلو څخه.

### د کاربن مونو اکساید زهری کولو نښې نښانې

کاربن مونو اکساید د خاموشه وژونکی په نامه پیژندل کیږی. دا ګاز کولی شی چې بدن د اکسجن اخستلو څخه منع کړی، نښې نښانې یی کیدای شی لکه زکام په څیر وی، زړه بدوالی، سردرد، ساه بندی، خوب، ضعیفی، او په لویه پیمانه کاربن مونو اکساید کولی شی چې شعور، دماغ ته صدمه ورسوی او د مړینې سبب شی.

### آیا تاسی د کاربن مونو اکساید د مسمومیت باندی شکمن یاست؟

- ټولې کړکی او دروازې خلاصې کړئ.
- د ودانۍ څخه بهر او تازه هوا ته لاړ شئ.
- د ودانۍ بهر څخه د اور وژنې ( اطفایی ) څانګې ته زنګ ووهئ.
- د ودانۍ بهر څخه د ګاز شرکت ته زنګ ووهئ.
- 911 ته زنګ ووهئ که تاسو یا بل څوک دا نښې ولری، او یا ناروغ کس عاجل څانګی ته بوځی او ډاکتر ته چې تاسی داسی فکر کوی چې دا په کاربن مونو اکساید باندی مسموم شوی وی

د اور وژني ځانګه ------------------------------------------

د ګازو شرکت ---------------------------------------------

شفاخانه ---------------------------------------------------

## د کاربن مونو اکساید کشف کوونکی اله



- کشف کونکی اله نصب کړئ کوم چې په بیټری چلیږي یا اضافه بیټری لري، چی د یو ال لابراتوار لخوا تصدیق شوی وی
- په زیرکی سره د کمپنی د کارولو، ساتنی، او بدلولو لارښونی تعقیب کړئ،.
- په کال کې دوه ځله د کاربن مونو اکساید کشف کونکي الی بیټری چیک کړئ.
- که چیری الارم غږ وکړی د کور څخه بیرو ووځي.

بهتره ده چی د ستونزی مخنیوی باید وشی دا چی د الارم یا د کاربن مونو اکساید اله باندی تکیه وکړو.